مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست
۲۰۲۶/۰۳/۱۱

# عمر، لکه د خوب لیدل

له یوې پېړۍ د زیات عمر لرونکي مشر، طلایي خبره
دا بابا دې خدای ج تر ډېره ژوندی او صحتمند لري.
سره له دې چې عمر یې نږدې یوولسو لسیزو ته رسیږي؛ خو شکر دی ټول حواس یې برابر دي.
په دې زهیر ځان میلمه ته آن حجرې ته راځي، د زړه خواله ور سره کوي او دعاوې کوي.
ترې ومې پوښتل:
بابا،
دا عمر څنګه تېر سو؟
د سترګو کونجونو کې یې اوښکې وځلیدې او بیا یې ویل:
لکه د خوب لیدل
بیا مې ترې وپوښتل:
بابا د ژوند خواږه څه وي او ترخه یې څه وي؟
شیبه غلی شو او بیا یې په ځواب کې ملغلرې وشیندلې:
هرچاته خپل هغه وختونه په یاد وي چې له چا سره یې ښه او یا بد کړي وي.
کله چې ځوک د نیکۍ وخت رایادوي، نو همدا د ژوند خوږه برخه وي، د خوشالۍ احساس کوي او کله چې خپلې بدۍ را یادوي، نو له ځان سره خجالت او شرمنده شي، نو همدا یې ترخه برخه ده.
ماته یې دا ځواب بیخي جالب و.
رښتیا،
انسان که هر څومره د خپلو بدیو او ظلمونو پټولو یا توجیه کولو هڅې وکړي، بیا هم نه توانیږي. ځکه له خلکو به یې پټ کړي، یا به یې توجیه کړي؛ خو له خپل وجدان سره به څه کوي؟
که د چا وجدان هرڅومره مړ وي؛ یو وخت را ژوندی کیږي او انسان ته به د خپلو بدیو دوامداره سزا ورکوي.
بابا دې سلامت وي.




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ